مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد عیان عیان ۲۰۲۱/۰۸/۰۶

ازادي ښه که اشغال؟

«دویمه برخه»

لومړۍ برخه یې په همدې درنه ویبپاڼه (افغان جرمن انلاین) کې په «۲۰۱۹/۷/۱۳» نیټه خپره شوې ده.

اوپه دې برخه کې:

سلطان جان«کلیوال»هم دازادۍ په غم کې سوی
دی هم لکه دنوروافغانانو، داشغال ماتم کې سوی
په دیره چې یې اشغالګرینکیان دیره شول
نوسپین غریې د«موربم»دسرولمبوسیتم کې سوی
اشغال دخپلې خاورې یې محشرګڼلی دی هم
غندنه یې کوي،دوطن هرځای چې په بم کې سوی

نووایي:

«ګټلي ازادۍ ته مې خطرپیښ شوی دی
زمادسردپاسه چې بل سرپیښ شوی دی
دیره مې په دیره شونابللي میلمانه
سپیروخړومخوته بل نظر پیښ شوی دی
له لیرې فاصلوچې ګوزارونه شي په ما
پوهیږم چې په سیمه بل محشرپیښ شوی دی
یوغل مې ؤشړلی دکابل له سردرو
بل غل راباندې لارکې دخیبرپیښ شوی دی
داڅنګه فیصلې کړی ماتم زماپه باب؟
سهارنه که خطاشي مازیګرپیښ شویدی
غلیم خومې دننګ نه لاپرون وښه خبر
خونن په بله ژبه بل هنرپیښ شوی دی
اثر یې په مانشته وروي دې سرې ګولۍ
دښمن مې کلیواله په سپین غرپیښ شوی دی»

داشغال په دې غوبل کې هیواد ټول شوپایمال+ ازادي ښه که اشغال؟
وایه وایه ریشتیا وایه په هرحال + ازادي ښه که اشغال؟

*****

او

علم ګل«سحر»ته ښکلي ازادي ده
په خپل شعرکې یې ستایلي ازادي ده
وایي ګټل دازادۍ وي تل په وینو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بایدقدرباندې پوی شوخپلواکي ده
دازادۍ بایلل ګوناوامرییتوب دی
اوساتل یې یوه لویه قرباني ده

«سحر»دګیلې په ډول په خپل شعرکې داسې وایي:

«مونږپه خوله باندې ستایلې ازادي ده
بس له هرڅه راته ښکلې ازادي ده
مونږپه وینوازادي ده تل اخیستې
مونږپه خوشې شي بایللې ازادي ده
مونږدخپلې ازادۍ اتل تکفیرکړ
نه په ځان مولورولې ازادي ده
زمونږبرخه بې علمي،لوږه اوتنده
مونږه نوروته ګټلې ازادي ده
مونږبه څه دازادۍ په قدرپوه شو
مونږه کله لا لیدلې ازادي ده »

نیکونوموشړلي دي په توره اوپه ډال + ازادي ښه که اشغال؟
وایه وایه ریشتیا وایه په هرحال + ازادي ښه که اشغال؟

*****

ملنګ جان یوځای کې داسې دي ویلي:

ته به وایې چې لالونه اوملغلرې یې پیلي
ازادي یې دهرافغان اروا ګټلي
هرافغان چې شي بې ننګه موریې پې نه دي ښلي
چې دمورشوده حلال ګڼي خپل ځان ته
داشغال په ځد به خودوي پاڅیدلي

محمدامین «ملنګ جان»په دې اړه څه وایي:

زه افغان یم زماروح افغانستان دی
بې له روحه څوک ژوندون نه شي کولی
زماخوښ دازادۍ نام ونښان دی
اسارت زمااروا ح نه دی منلی

شعر اوږد دی چې دلته لږ وړوکی شان بدلون هم په کې شته او د ملنګ جان د خوږو نغمو د څلورم چاپ نه رانقل شوی دی.
که دملنګ جان داشعرزمونږدنوموتې سندرغاړې اودغزل بلبلې«نازیه اقبال»په خواږه اوجادوګر اوازکې د«یوټیوب»دلارې واورئ نوډیرخوندبه ترې واخلئ . دملنګ جان اروادې ښاده اودمیرمن نازیه اقبال عمردې اوږدوي. نازیه اقبال دخپلې سندرې نه مخکې دادوه بیتونه هم په ډیرجوش اوخوند سره وایي:

«دافغان په ننګ مې وتړله توره + ننګیالی دزمانې خوشال ختک یم»

*****

«دخیبردره که لاردتلوراتلوده + په کابل اوپیښورکې افغان یودی»

*****

هو. بیلکل ټیک ده اواوس پې ټول پوهیږي چې: «لراوبریوافغان».
د دویمې برخې پای. بله برخه به هم راځي ،خویره که دازادۍ په باره کې مې نورشعرونه وموندل.

ددویمې برخې دلیکلونیټه: ۱۴۰۰/۴/۱۱ـ ۲۰۲۱/۷/۲.
«پای»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ